پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۶/۱۰/۱۳

# لنډۍ او د لنډیو د ښتولو ستونزه

## اته ویشتمه برخه

## لایق او د لنډیو بحث

## ۳

«د پښتو د فولکلوري شعرونو په لړ کې د لنډیو
برخه واقعاً د ټول بشريت د فولکلوري شعرونو
د عظیمې شتمنۍ یوه مهمه برخه ده.»

سلیمان لایق

په ږیره نښه راته وکړه
پرون مې بل صوفي ته پورته کړل لاسونه

د لیونۍ حاجت پوره شو
په لاره ځي په کانو ولي زیارتونه

عمر عبث را باتدې تیر شو
لکه منه په اروپا کې خوسا شومه

د لنډیو په باب د لایق د څیړنو له یادو برخو نه علاوه چې په چاپي او بریښناي برخو کې وړاندي شوی دي، کابل ته زما د ۲۰۱۵ کال د سفر په ترڅ کې، ما خپله مخامخ هم له لایق سره درې ځلې په اکادیمۍ کې ولیدل او د لنډیو، شعر او ځینو نورو فرهنګي، سیاسي مسایلو په باب سره وغږیدو چې زه به یې دلته لنډیز وړاندي کړم:
د ۲۰۱۶ کال د اپریل په دیارلسمه نیټه د افغانستان د علومو اکادیمۍ ته د لایق لیدلو ته ورغلم. له یو عادي روغبړ نه وروسته مو، ډیرې عادي خبرې پیل کړې. درې ساعته سره ناست او وغږیدو.
لومړنی بحث مو په لنډیو باندې پیل کړ. ځکه چې ما د لنډیو د مقالو په ترڅ کې اشاره ور ته کړې ده، په لنډیو باندې لایق لا له پخوا نه ډیر ارزښتمن کار پیل کړی و چې ګڼې مقالې یې په بیلابیلو خپرونو کې خپرې شوې دي، ځکه مې د لنډیو په باب د بحث په پیل کې، د لنډیو په باب د خپلو کړو کارونو په باب مفصلې خبرې ور ته وکړې.
وروسته له هغه نه مې له ده پوښتنه وکړه چې تاسو د لنډیو په باب په دې وروستیو کې څه کړې دي؟
لایق پرته له دې چې د لنډیو په باب د خپلو تیرو کارونو یادونه وکړي، په اکادیمۍ کې یې د فولکلور او په خاصه توګه د لنډیو په باب خبرې وکړې، خو د فولکلور د خوندي کولو، او په ځانګړې توګه د لنډیو د خوندي توب په برخه کې ډیر نا راضه ښکاریده او ویل یې چې:
د لته په اکادیمۍ کې څوک کار نه کوي، ما (لایق) د اکادیمۍ په رییس و منله چې د فلکلور، په ځانګړي ډول د لنډیو د را ټولولو له پاره ځانګړې بودجه برابره کړي دا کار هم وشو، خو عملي کار ته په بیلابیلو پلمو چا زړه نه کړ.
ده د خپلو خبرو په ترڅ کې په ټینګار سره و ویل چې لنډۍ د شخص مال نه ده. که لنډۍ د شخص په نامه ثبت شي، لنډۍ مسخه کیږي او دا کار پخوا هم شوی، په امریکا کې چا کومه ټولګه چاپ کړې او لایق دې ستونزې پورې اړوند کوم لیک هم ورلیږلی دی.
د لنډیو د را ټولولو له پاره د لایق طرحه داسې وه:
کلیو ته دې لاړ شي، چاپ کړې فورمې دې ور سره وي له عامو خلکو(ډم، بزګر، شپون، ترګاڼ، کلکار، خان، ملک او...) نه دې لنډۍ واوري او داسې دې ثبت کړي چې د لنډۍ د ویونکي او لنډۍ د ښتونکي شهرت دې په ځانګړې فورمه کې درج کړای شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

کله مې چې د ده د یادې نظر وړ فورمې پوښتنه ور نه وکړه، دا بیلګه یې په لاس راکړه:



**د فوکلور د ثبت فورمه**

دژانر د ثبت ځای :

دآرشیف نومره :

نېټه :

| د فوکلور ټولوونکي پېژندنه surveyor | | د فوکلوریکو معلومالو د ورکوونکي پېژندنه informant | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| نوم او تخلص | | نوم | | کلی | |
| دنده او ځای : | | د پلار نوم | | جنس | |
| اصلي ځای : | | قبیله / خېل | | عمر | |
| د اړیکو شمېره: | | ولایت | | د سواد کچه | |
| ژانر: | | ولسوالي | | د اړیکو شمېره | |

**د ژانر ثبت :**

یادښت : که د کوم ژانر (لنډۍ ، متل ، اصطلاح او نورو ) په اړه کومه ځانګړې کیسه وي، لطفاً یې فورم کې یې ولیکئ .

وروسته له هغه يې چې د دې فورمې په باب څرګندونې وکړې، بيا يې دا هم را ته و ويل چې دا خلک د کار نه دي، دوی کار نه کوي، او دا کار بايد وشي، ځکه چې موږ په فولکلور کې خپل اصيل تاريخ پيدا کولای شو، د فولکلور د مطالعې او پيژندنې له لارې موږ خپله ټولنه په هر اړخيز ډول پيژندلای شو.
بيا يې د خپلو نا چاپ شعرونو په باب د بحث ور پرانست. د ميز پر سر يې د چاپ له پاره يوه برابره کړې ټولګه پرته وه. دا ټولګه «د مريانو سرود» نوميده. د مريانو سرود د لايق د نا چاپو قصيدو او يو شمير نا چاپو آزادو شعرونو ټولګه ده. او په همدې ورځ (د ۲۰۱۵ کال د اپريل دیارلسمه) يې په خپل غږ کې په عالي شاعرانه انداز او شور سره ما ته څو قصيدې په داسې غږ واورولې چې دی پوهيده چې زه يې د زړه په غوږونو اورم.
د دې ټولګې(دمريانو سرود) د يوه آزاد شعر سرليک يې د ټولګې له پاره د نامه په ډول غوره کړی دی او په خپل غږ کې يې ما ته داسې واوراوه چې ته به ويل لايق خپله مريی دی او خپل غږ اوچتوي.
دا يې هم را ته و ويل چې د مريانو سرود له چاپ نه وروسته د دري شعرونو يوه ټولګه چې«عقاب گم شده» نوميږي د چاپ له پاره چمتو کوي. البته چې سپانسور نه لري او دی خپله يې په خپل مصرف چاپوي.
په پای کې يې په يوه ځوانه انرژی او جديت سره را ته و ويل:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيز بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اوس په خانه ټکانی باندې لګیا یم. زما د عمر ځومره برخه چې پاتې ده، غواړم هغه د خپلو پاتي کارونو په تر سره کولو ولګوم، خپل تر سره شوي کارونه سره منظم او چاپ کړم، په ککره کې پاتې پلانونه باید ژر تر ژره تر سره کړم.
له لایق سره په دې لیدنه کې زه پوه شوم چې دی د افغاني ټولنې د سره اور په بټۍ کې له شپیتو کالونو نه زیات وخت تیر کړی او سم دم پوخ شوی او په دې ښه پوه شوم چې په هغه اور کې چې دی پوخ شوی دی، ما ته یې ایله اوس یو نیم دُرلمه تاو را رسیدلی دی.
مازدیګر مهال کله چې له دفتره د کور پر لوري روانیده، د اکاډیمی (شا ببو جان ودانی) په انګړ کې مو ځو یادګاري عکسونه هم واخستل، بیا د ده د اکاډیمی موټر په سورلی د مکرویانو پر لور رهي شوو. د کابل ښار د واټونو په اړخونو کې چې له مازې جګ ځای (دیوال، پایه، ونه، او...) و، د لویو او ورو ټوپکیانو عکسونه په بیلابیلو سایزونو لګول شوي وو. لایق زما د مخ کتاب په لیدلو پوه شو چې زه د عکسونو په لیدلو ځومره خوا بدی یم او ځومره رنځیږم، نو را غبرګه یې کړه:
بهاند صاحب مشران خو یې لا څه کوي، آن د محلي اشرارو عکسونه یې هم را ځړولي دي.
له لایق سره زما د لیدنې تقریباً یو نیم کال واوښت، په دې موده کې ښايي ده د لنډیو په باب خپلې نوري تازه څیړنې خپرې کړې وي چې ما نه دي لیدلي او یا ښايي پخوا یې هم څه خپاره کړي وي چې زما له نظره نه دي تیر شوي چې ما دلته په دې څیړنه کې یاد کړي وای.
که د لنډیو په باب د لایق کوم بحث یا کومه چاپ شوې مقاله له ما نه پاتې وي، زه دا خپل قصور ګڼم، او وایم چې که په راتلونکې کې د لنډیو په باب د ده نوې څیړنې ما تر لاسه کړې، خامخا به یې یادونه وکړم او یو څه به پرې ولیکم.

د دې برخې د پای له پاره دا څو نوې او زړې لنډۍ:

د غرونو غاړې پسې ګورئ
رامداد د ټینټې سرۍ نه دی مړ به وینه

وار د رامداد د پګړۍ تیر شو
نورمومندان دې پګړۍ نه په سروینه

مسکال دی شته، درک دې نه شته
په کار مې نه دي بې دیدنه مسکالونه

عمر عبث را باندې تیر شو
لکه منه په اروپا کې خوسا شومه

د لیونۍ حاجت پوره شو
په لاره ځي په کانو ولي زیارتونه

د نجونو مشره یې واده کړه
اوس به په سرو منګولو ځوک دریا وهینه

په ریره نښه راته کیږده
پرون مې بل صوفي ته پورته کړل لاسونه

قصابه تبر به دې مات شي
زما هډوکي بیلتانه وچ کړي دینه

د کلي دوه پنځوس کوځې دي
جانانه ستا دیدن ته چیرې ودریږمه

د ربابو به دې ځونډې شم
له ملایانو نه مې پټ ساته مینه

د اته ویشتمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ